عبدالغفور لیوال ۲۰۲۲/۱۲/۲۱

# پوهه کفر ګڼي

# او

# ناپوهي ورته تقوا ښکاري

په تاریخ کې ټول هغه واکمن، چې ځانونه یې خدایان، د خدایانو اولاد او خپلوان یا د خدایانو استازي ګڼل، د خلکو له (پوهېدلو) ډارېدل.

د دوی واکمني هغه وخت اسانه و راحته وه، چې خلک نه پوهېدل.

د اروپا مستبدو واکمنیو کلیسا او کشیشانو ته واک ورکړی و، چې خلک وزبېښي او مریيان یې وګڼي، خو نه دې یې پرېږدي، چې (پوه) شي. د سلطنتونو او کلیسا پر ګډو ګټو ولاړ تړون همدا و، چې یو د بل د واک و ځواک ملا به تړي، خو خلک به په ناپوهی کې ساتي. دوی له خلکو نه‌وېرېدل، د خلکو له پوهېدو وېرېدل.

کله، چې رېنېسانس د مسیح پر ځای (انسان) د پام مرکز ته راوست او د فرانسي تر انقلاب روسته ولسواکي مخ په دودېدو شوه، بیا نو ټوله هڅه دا وه، چې انسان ویښ شي، روښانه شي، مانا (وپوهیږي).

انسانمحوره واکمنیو ته پوه انسانان او تئوکراتیکو (د خدای له نامه ګټه اخیستونکي واکمنۍ) حکامو ته ناپوه انسانان په کار دي.

پوهېدلي انسانان خپل حقونه پیژني او غواړي یې.

په دونیا کې داسي بنیادمان هم شته، چې که له خپلو حقونو یې خبروئ، تاسو ښکنځي او تکفیروي مو.

هغوی چې د پوهېدو وړتیا نه لري، پوهه کفر ګڼي او ناپوهي ورته تقوا ښکاري.

نومهالي انسان ته د کلاسیکو تئوکراتانو او د هغوی د هممهالو ولسونو ناخبری د خندا خبره ښکاري، خو څوک څه خبر، چې:

**نړی لا هم له دغي تجربی څخه رنځیږي.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ